مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آمنه فنا

۲۰۲۳/۰۵/۰۱

زړه مې بل ډول داغلی

مودې وشوې، زړه مې غلی
مودې وشوې، زړه مې بل ډول داغلی
مودې وشوې، زړه مې هېڅ نه راته وايي
مودې وشوې، زړه رمې د غمو پيايي
مودې وشوې، زړه مې درد په زړه کې ساتي
مودې وشوې، زړه مې نه کړي فريادونه
نه کوي راته خبرې
ترېنه هېرې دي سندرې
ته وای مړ دی، يا ګونګی دی
نه په حال، نه ليونی دی
اخی مات لکه بنګړی دی
سر يې ايښی پر زنګون دی
زما نارې نه اورې کوڼ دی
له اور سرې سلګۍ يې اورم
دا ماشوم چا مرور دی؟
چې وړې سلګۍ يې اورم
زه حيرانه ورته ناسته
دلاسه به يې په څه کړم
د کوم درد يې درمان وکړم
مودې وشوې زړه مې غلی
مودې وشوې زړه مې بل ډول داغلی
بې غزلو بې نغموو يم
بې سندرو بې ټپوو يم
ژوند مې شور او شرنګ بايللی
هديره کې د بنګړو يم
مړوندونه مې دي مړي
احساسات مې اوبو وړي
خپل وجود کې زنداني يم
وزر ماتې او زخمي يم

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

وایم کاش چې دا یو خوب وي
ما وطن نه وي بایللی
روح مې تن نه وي بایللی
زه دې نه وم بې رنګونوو
بې سپرلیوو بې ګلونوو
ماپسې دې نه وي بندې
د رڼا دروازې سپینې
خدایه ته خو مې حال وینې
ښونځي کې دې زما پر څوکۍ نه وي ګرد پرېوتی
پوهنتون کې دې زما صنف خالي نه وي
زه دې نه ومه، په نه جرم محکومه
زه دې نه ومه، د ژوند له حق محرومه
زما زړه دې دومره مات او ما یوس نه وي
زما زړه دې لکه ګل په غوړېده وي...

آمنه فنا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ